د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# کاسا ۱۰۰۰ پروژه؛ په افغانستان او سیمه یې اغېزې




د کاسا 1000 پروژې طرحه چې د ۲۰۰۵ کال مې میاشت کې د سیمه‌ییزې همکارۍ یا ریکا کنفرانس کې جوړه شوه، او هوکړه یې د قرغزستان، تاجکستان، پاکستان او افغانستان لوړپوړو مشرانو لخوا لاسلیک شوه. په افغانستان کې یې عملي چارې د روان کال فورورۍ میاشتې په ۶ نېټه د افغان ولسمشر محمد اشرف غني لخوا په داسې حال کې چې د پاکستان سفیر زاهد نصرالله خان او د تاجکستان سفیر شرف الدین امام هم ګډون درلود رسماً پیل شوې. دا چې دا پروژه څنګه او ولې پیل شوه؟ په سیمه او په ځانګړې توګه په افغانستان به یې اغېزې څه وي؟ او د دې پروژې راتلونکی څنګه ارزول کېږي؟ د اوونۍ په دې تحلیل کې مو پرې شننه کړې.

## کاسا 1000 پروژه او اړتیا یې

د شوروي اتحاد له وخت څخه چې قرغزستان او تاجکستان چې د (UP Stream) یا پورتنۍ برخې او ترکمنستان، ازبکستان او قزاقستان د (Down Stream) یا لاندینۍ برخې هېوادونو په توګه پېژندل کېدل[1].
پورتني برخې هېوادونو د اوبو په واسطه او ښکتنیو هېوادونو د ګازو او تیلو څخه چې پراخه زېرمې یې لري برېښنا تولیدوله. پورتني اړخ به ښکتني اړخ ته په دوبي کې او ښکتني اړخ به پورتني هغه ته په ژمي کې شاوخوا 25413 ګیګا واټ برېښنا د (CAPS) یا (Central Asia Power System) له مخې چې پورتني پینځه هېوادونه پکې راتلل یو بل ته لېږدوله. خو کله شوروي اتحاد له منځه ولاړ یادې مرستې هم د پای مونډلو ګامونه پیل کړل. په ۲۰۰۳ کال کې ترکمنستان په یاده برخه کې له مرستې لاس واخیست. په یاده برخه کې د برېښنا لېږد کچه له ۲۵ زره څخه په 2000، 2005 او 2008 کلونو کې په ترتیب سره 7803، 6319 او او 3712 ګیګا واټ ته راښکته شوه[2].
لکه څنګه چې معلومه ده، د نړۍ په سطحه ټول هېوادونه برېښنا ته ځکه ډېره اړتیا لري ترڅو برېښنا په اقتصادي، ټولنیزو او نورو برخو کې د پرمختیایي کارونو ترسره کېدو لپاره وکاروي.
بلخوا په اوس وخت کې د نړۍ په سطحه د هوا ککړتیا یوه ستره ننګونه ګڼل کېږي. د نړۍ مشران ټینګار کوي ترڅو ټول هېوادونه د پرمختیایي کارونو ترسره کولو لپاره د هغو موادو استعمال بند او یا کم کړي کوم چې د هوا ککړتیا کې ونډه لري. پر همدې بنسټونو ډېر شمېر هېوادونه چې د اوبو پراخه سرچینې لري هڅه کوي ترڅو د خپلو اوبو څخه په ګټې اخیستنې سره برېښنا تولید کړي. د اوبو څخه تولید شوې برېښنا که له یوې خوا د هغو موادو د استعمال مخه نیسي او کموي یې کوم چې د پرمختیایي کارونو ترسره کېدو لپاره استعمالیږي او هوا ککړوي، له بلې خوا اوس د ډېرو هېوادونو د اقتصادي پرمختګ او عوایدو راغونډولو لویه سرچینه ګڼل کېږي.



[1] https://eurasianet.org/upstream-downstream-the-difficulties-of-central-asias-water-and-energy-swaps
[2] https://www.csis.org/events/tutap-interconnection-concept-and-casa-1000

قرغزستان او تاجکستان په منځنۍ آسيا کې هغه هېوادونه دي چې د اوبو پراخه زيرمې لري او برېښنا توليد کې ورڅخه ګټه پورته کوي. ياد هېوادونه د دوبي په موسم کې د خپلې اړتيا څخه ډېره برېښنا لري. بلخوا په سويلي آسيا کې پاکستان هغه هېواد دی چې د دوبي په موسم کې شاوخوا 5000 ميګا واټ برېښنا ته اړينه اړتيا لري او په ياد موسم کې له ستر او تنګوونکي کمښت سره مخ وي. او په ورځنۍ کچه د ياد هېواد وګړي د ۱۰ څخه تر ۲۰ ساعتونو پورې د برېښنا بنديدو ستونزې سره مخ وي. نو ځکه پاکستان غواړي د خپلې دغې اړتيا پوره کولو لپاره د قرغزستان او تاجکستان هېوادونو څخه د افغانستان له لارې خپل هېواد ته د دوبي په موسم کې برېښنا وارده کړي.[3]

## په افغانستان او سيمه يې اغېزې

د دغې پروژې برېښنا مزی د 500 کيلو واټ برېښنا لېږد ظرفيت لري. د قرغزستان او تاجکستان څخه د 477 کيلو متره په اندازه به د افغانستان شيرخان بندر له لارې د اوو ولايتونو (کندز، بغلان، پنجشير، کاپيسا، کابل، لغمان او ننګرهار) څخه په افغانستان کې د 570 کيلو متره په اندازې تېرېږي او د تورخم له لارې به د پاکستان نوښار سيمې ته رسول کېږي.
په دغې پروژې د 1.2 ميليارد ډالرو لګولو اټکل شوی. په افغانستان کې يې د لګښت کچه 404 ميليون ډالر اټکل شوې چې 80 سلنه به يې نړيوال بانک او پاتې 20 سلنه به يې افغان حکومت پر غاړه اخلي. له پلخمري کابل ته د مزي غځولو لګښت د آسيا پرمختيايي بانګ لخوا تمويليږي او اټکل کېږي افغانستان به د دې مزي د ټرانزيټ څخه 1.25 سينټ د يو کيلو واټ ساعت پر بنسټ چې شاوخوا ۴۵ ميليون ډالر کلنۍ عايد کېږي ترلاسه کوي.
په افغانستان کې به د کاسا 1000 برېښنا لاتهونه يا مرکزونه چې په ۶۸ سلنه حکومتي ځمکو کې به جوړېږي د جوړولو لپاره به دري کمپونه په کندز، پنجشير او جلال آباد کې جوړېږي. په هر کمپ کې به 70 تنه کار کوونکي په دندو وګمارل شي د هغې ډلې به 10 بهرنيان 50 ځايي کار کوونکي او 10 امنيتي مسؤلين وي. او په هره برخه کې به د اټکل شوي شمېرې له مخې 125 کسان په کار بوخت وي، چې هغې کې به د 20 څخه تر 30 سلنې مسلکي کسان او نور به د ځايي خلکو څخه عام کار کوونکي وي.
د لومړنۍ مطالعې په وخت کې لومړی د بدخشان او واخان له لارې پاکستان ته د مزي غځولو طرحې باندې کار کېده ځکه ستره ګټه يې د لارې کموالی وو. مګر د کندز څخه تر ننګرهار ولايت پورې دويمه لار چې اوږدوالی يې هم ډېر وو، ځکه غوره شوه چې په دغې لارې پاخه سرکونه او لارې شتون لري او د مزي غځولو او بيا رغونې کارونه پکې په آسانه توګه ترسره کېدلی شي او محيطي او ټولنيزې اغېزې يې هم کمې دي. دغه پروژه د تاجک، ازبک، هزاره او پښتنو توکمو سيمو څخه تېرېږي او ګټه يې ټولو ته رسيږي.
د افغانستان برخې کارونو ترسره کېدو تړون يې، افغان لوري د دوه هندي کمپنيو ( Kalpataru Power Transmission Limited (KPTL)) او ( M/s KEC international Limited, India) سره لاسليک کړی دی.[4]
کاسا 1000 پروژه د منځنۍ او سويلي آسيا ترمنځ د اقتصادي او هر اړخيزو مرستو او سيمه ييز نښلون کې مرستندويه واقع کېدلی شي. تاجکستان او قرغزستان چې نسبتاً بې وزله هېوادونه دي د هغوی د عوايدو لوړوالي کې هم مرسته کولی شي. افغانستان به په عملي توګه د منځنۍ او سويلي آسيا ترمنځ د يو پل لوبولو حيثيت څرګند کړي او په راتلونکې کې به د سيمې هېوادونه نورو اقتصادي مرستو شريکولو ته هم د افغانستان له لارې ليواله کړي.
کاسا 1000 پروژې د امنيت لپاره لس ميليون ډالر ځانګړي شوي دي چې له يوې خوا د دې پروژې امنيت غښتلی کولی شي او له بلې خوا د افغانستان په امنيت ښه کولو کې هم تر يوې کچې رغنده ونډه لوبولی شي.

## د پروژې راتلونکی

په داسې حال کې چې د دې پروژې پر وړاندې يو شمېر خنډونه هم شتون لري، په اوس وخت کې د کاسا 1000 پروژه د سيمې هېوادونو په اقتصادي پرمختګ، تقاضا او اړتيا، سيمه ييز نښلون او امنيت برخو کې مرسته کولی شي. د دې پروژې پر



[3] پورتنی لينک
[4] https://main.dabs.af/News/NewsDetail/3154

وړاندې ستر خنډ امنيت ګڼل کېږي، بل خنډ چې کولی شي د دې اقتصادي پروژې مخه په راتلونکې کې ډب کړي هغه جيو پوليټيکل ستونزه ده.

ځکه که په راتلونکې کې په منځنۍ آسيا کې د برېښنا بل پلان په نظر کې نيول کېږي نو دا پروژه به له خنډ سره مخ کوي. د بېلګې په توګه د تاجکستان هېواد چې د راغون برېښنا بند جوړولو په سر د ازبکستان هېواد سره په سياسي کړکيچ کې واوښت او شاوخوا ۱۸ کاله ازبکستان او تاجکستان هېوادونو ترمنځ اړيکې يې ترينګلې کړې وې.[5]

پاکستان هڅه کوي ترڅو روسيه هم کاسا 1000 پروژې ته راوبولي[6]، که څه هم روسيې له افغان لوري سره په کاسا 1000 پروژې خبرې کړې او غواړي په ياده پروژه کې د 500 ميليون ډالرو پورې پانګونه وکوي او پاکستان او افغانستان ته برېښنا صادره کړي. مګر تاجکستان بيا نه غواړي چې روسيه په دې پروژه کې ورګډه شي او د روسيې وړانديز يې ځايه ګڼلی دی.[7]

بل خطر چې په راتلونکې کې کاسا 1000 له خنډ سره مخ کولی شي هغه د چين هېواد له لوري پاکستان ته د 3.2 ګيګا واټ برېښنا ورکړې ژمنه ده، او کولی شي د ياد هېواد برېښنا تقاضا را ښکته کړي او په کاسا 1000 حتماً سترې اغېزې لرلی شي.[8]

ويل کېدل چې د کاسا 1000 پروژې له لارې به 1300 ميګا واټ برېښنا لېږدول کېږي چې زر هغه به يې پاکستان او پاتې نوره به يې افغانستان ته ورکول کېږي. مګر په وروستيو کې افغان دولت پرېکړه کړې چې د کاسا 1000 پروژې څخه به 300 ميګا واټ برېښنا ځکه نه اخلي چې د سيمې نورو هېوادونو په پرتله يې بيه لوړه ده. نو که چېرته پاکستان ته هم په راتلونکې کې د ارزانه برېښنا امکانات برابرېږي نو حتمي ده چې د کاسا 1000 پروژه به له زيان سره مخ کېږي.

په کال 2016 مې مياشت کې د کاسا 1000 پروژې عملي کارونه په تاجکستان هېواد کې پيل شول او ښايي د 2022 کال پورې د دغې پروژې ټول کارونه پای ته ورسيږي.

خو هغه څه چې په اوس کې يې د کاسا 1000 پروژې سره مرسته کړې هغه نړيوال اجماع او مرسته ده چې د نړيوال بانک، آسيا پرمختيايي بانک او USAID لخوا په مالي برخه کې ترسره کېږي. مګر که نړيوال رېښتيا غواړي چې افغانستان خپل پرمختګ لور ته عملي ګامونه پيل کړي، اړينه ده ترڅو افغانستان سره د اوبو بندونو جوړولو په برخه کې نه يوازې مالي او تخنيکي مرستې ترسره کړي بلکې د سيمې په سطحه هغه هېوادونه چې افغانستان دې کار پيلولو ته نه پرېږدي او پر وړاندې يې خنډونه جوړوي مخې ډب کولو او د هغوی راګرځولو کې افغانستان سره روا او قانوني مرستې ترسره کړي.

ترڅو افغانستان يوازې د يو پل په حيث نه بلکې د نورو اقتصادي پرمختګونو لاره او څښتن شي. پاکستان چې 5000 زره ميګا واټ برېښنا ستر او اړين کمښت سره مخ دی، که چېرته افغان دولت د اوبو بندونو جوړولو کارونه د نړيوالو په مرسته چې څومره زر کېدلی شي ترسره کړي نو کولی شي په ياد هېواد (پاکستان) خپله برېښنا وپلوري. او دا کار کولی شي د سيمې په سطحه امنيت راوستلو، اقتصادي پرمختګونو او په ځانګړې توګه د دواړو ګاونډيو هېوادونو وروسته پاتې ولسونو په اقتصادي ځواک پياوړي کولو کې او اړيکو ټينګولو کې لا ډېره مرسته وکوي. او بلخوا پاکستان کولی شي د افغانستان څخه ارزانه او د لږ واټن په حساب برېښنا خپل هېواد ته وارده کړي.

[5] http://www.europarl.europa.eu/thinktank/en/document.html?reference=EPRS_BRI(2015)571303
[6] https://tribune.com.pk/story/1194194/bolstering-cooperation-pakistan-invites-russia-join-casa-1000/
[7] https://main.dabs.af/News/NewsDetail/345
[8] https://www.researchgate.net/publication/284205684_A_study_on_the_risk_management_of_the_CASA-1000_project

# محدودیت دسترسی به اطلاعات در افغانستان



بتاریخ ۱۵ دلو ۱۳۹۸ هـ ش در حدود ۳۰ رسانه نسبت به آنچه که محدودیت شدید دسترسی به اطلاعات گفته شده است با امضا کردن نامه ی اعتراض کردند. در این نامه گفته شده است «افغانستان در عرصه ی دسترسی به اطلاعات در سالهای اخیر عقب گرد داشته است.»(۱) و نیز گفته شده است «دولت افغانستان به قانون حق دسترسی به اطلاعات و حمایت از رسانه های آزاد برخورد دو پهلو دارد. سانسور در تصویر پخش شده از مراسمی که حکومت افغانستان به حامیان ائتلاف جهانی حمایت از آزادی رسانه ها پیوست، تازه ترین نمونه این رویکرد است.»(۲)

در نامه مذکور آمده است «مشکل دسترسی به اطلاعات در سراسر دولت چشم گیر است. اما، نهادهای همچون دادگاه عالی، دادستانی کل، امنیت ملی، اداره تدارکات ملی، دفتر رئیس جمهور، وزارت امور خارجه، وزارت مالیه، بانک مرکزی، وزارت دفاع ملی، وزارت امور داخله و وزارت صحت عامه از بسته ترین نهادها به شمار می روند.»(۳)

وحید عمر مشاور ارشد رئیس جمهور در امور روابط عامه و استراتیژیک، در عکس العمل به اعتراض رسانه ها گفته است که حکومت حاضر است به این اعتراض رسیده گی کند. وی همچنان از رسانه های معترض خواست تا مشخص کنند که کی و در کدام مورد دچار مشکل شده اند. او اضافه نمود که تنها سخن گویان ریاست جمهوری ۱۰۳۸۷ مورد به رسانه ها معلومات ارائه کرده اند. (۴)

شکایت شماری از رسانه ها مبنی بر عدم دسترسی به اطلاعات در حالی بلند می شود که مقامات قبلی و فعلی حکومت افغانستان آزادی بیان را یکی از دستاوردهای شان به حساب آورده و در حمایت از آن بارها تعهد شان را بیان نموده اند. در این تحلیل تلاش می شود تا روی مشکل دسترسی به اطلاعات و راه حل های آن با درنظرداشت قانون اساسی و قانون رسانه های همگانی کشور تماس گرفته شده و مورد بررسی قرار گیرد.

## حق دسترسی به اطلاعات در چوکات قوانین کشور

به اساس ارشادات قانون اساسی و قانون رسانه های همگانی افغانستان اتباع کشور حق دارند به اطلاعات دسترسی داشته باشند، مگر اینکه اطلاعات مطالبه شده خطری را متوجه منافع ملی، تمامیت ارضی و حقوق دیگران نماید. ماده پنجم قانون اساسی می گوید«اتباع افغانستان حق دسترسی به اطلاعات از ادارات دولتی را در حدود احکام

قانون دارا می باشند ...»(۵) تضمین حق دسترسی به اطلاعات و عدم ایجاد محدودیت فراروی این امر در بندهای ۱ و ۲ ماده چهارم قانون رسانه های همگانی نیز چنین تسجیل شده است:

"هر شخص حق آزادی فکر و بیان دارد. طلب، حصول و انتقال معلومات، اطلاعات و نظریات در حدود احکام قانون، بدون مداخله، ایجاد محدودیت و تهدید از طرف مسئولین دولتی، شامل این حق است. این حق در برگیرنده فعالیت آزاد و مسایل پخش و نشر، توزیع و در یافت معلومات نیز می باشد."

" دولت رسانه های را حمایت، تقویه و تضمین می نماید. هیچ شخصی حقیقی یا حکمی به شمول دولت و ادارات دولتی نمی تواند فعالیت آزاد رسانه های خبری یا معلوماتی را منع، تحریم، سانسور یا محدود نموده و طور دیگری در امور نشرات رسانه های همگانی و معلوماتی مداخله نماید ..."(٦)

حق مطالبه اطلاعات از ادارات حکومتی و پاسخگویی حکومت به این طلب، در ماده پنجم قانون رسانه های همگانی به شکل صریح تر و روشن تر بیان شده است:«هر شخص حق دارد، معلومات را طلب و دریافت نماید. دولت بنا بر تقاضای اتباع کشور، معلوماتی را که مطالبه می شود به دسترس آنان قرار می دهد ...»(۷) اما، این حق مشروط گردیده است به جملات باقی مانده ماده پنجم قانون رسانه های همگانی کشور «مگر اینکه معلومات مطالبه شده محرم بوده و افشای آن امنیت، منافع ملی و تمامیت ارضی کشور را به خطر مواجه سازد و یا به حقوق دیگران صدمه وارد نماید.»(۸) در ماده پنجاهم قانون اساسی افغانستان نیز گفته شده است « ... این حق به جز صدمه به حقوق دیگران و امنیت عامه، حدودی ندارد.»(۹)

## فرهنگ کتمان

متأسفانه از گذشته های دور، هرنوع اطلاعات و آمار ذخیره شده در ادارات مختلف؛ جزء اسرار حکومتی پنداشته شده و مؤظفین مربوطه اعم از مسئولین و مرئوسین؛ خود را مکلف به حفاظت از آن می دانند.

پس از بوجود آمدن حکومت جدید به رهبری حامد کرزی رئیس جمهو پیشین افغانستان در سال ۱۳۸۲ هـ ش رسانه ها در کشور از نظر کمی رشدی چشمگیری داشته است. بطوری که امروز صدها رسانه ی تصویری، صوتی، چاپی وغیره در هر گوشه افغانستان فعالیت دارند. با وجود رشد کمی چشمگیر رسانه ها در کشور هنوز هم جامعه ی رسانه ای افغانستان با مشکلات کیفی زیادی دست و پنجه نرم می کنند، که از این میان یکی هم مشکل محدودیت دسترسی به اطلاعات ادارات دولتی افغانستان گفته شده است.

با آنکه گفته می شود افغانستان بهترین قانون را در عرصه رسانه دارد، با آنهم هر از گاهی شکایت های از سوی رسانه ها بلند می شود که بر اساس آن ادارات حکومتی فراروی دسترسی به اطلاعات محدودیت وضع می نماید، که تازه ترین موارد آن را نامه اعتراضی در حدود ۳۰ رسانه خصوصی تصویری، صوتی و چاپی در کشور تشکیل می دهد. رسانه ها به عنوان پلی در میان حکومت و ملت فعالیت می نمایند، به عباره دیگر رسانه ها خواست و مطالبات ملت را به حکومت رسانده و از اوضاع و احوال حکومت مردم را با خبر می نمایند. در صورتی که دسترسی به اطلاعات حکومتی که قانونا نشر و پخش آن مجاز شمرده می شود محدود شود، در آنصورت رسانه ها نمی توانند یک بخش از کاری خود را که همانا رساندن اطلاعات حکومتی به مردم است به درستی انجام دهند.

متأسفانه مشکلات رسانه ها تنها در محدودیت دسترسی به اطلاعات باقی نمانده و عدم امنیت و خشونت از چالش های جدی دیگری است که فرا روی منسوبین رسانه ها در افغانستان قرار دارند.

اخیراً مقرره ای در کابینه به تصویب رسید که هدف اصلی آن تأمین امنیت اشخاص رسانه ای، تسریع روند خشونت علیه آنها و تأمین حقوق صنفی و حرفه ای اشخاص رسانه یی خوانده شده است. دیده شود که این مقرره تا چه حدی واقعاً در کم ساختن چالش هاییکه که ژورنالستان و خبرنگاران کشور با آن دست و گریبان اند، مؤثر واقع می گردد.

## راه حل ها

در دنیا تعداد زیادی از کشورهای وجود دارند که دسترسی به اطلاعات شان ممنوع و یا محدود می باشد. در افغانستان در طول تاریخ گاهی دسترسی به اطلاعات دولتی ممنوع بوده است و زمانی هم محدود. اما، خوشبختانه از نزدیک به دو دهه ی اخیر است که آزادی بیان در افغانستان بوجود آمده و رسانه می توانند تا حدودی دسترسی به اطلاعات دولتی داشته باشند. اما، در این دوران هم گاه گاهی شکوه رسانه ها مبنی بر محدودیت در فراروی دسترسی به اطلاعات بلند می شود.

1- اولین راه حل بسته گی دارد به رعایت بی چون چرای قانون اساسی و قانون رسانه های همگانی افغانستان در نخست از سوی حکومت و سپس از سوی رسانه های کشور. چون از اثر عدم تطبیق درست قوانین مربوط به رسانه هاست که حکومت دسترسی به اطلاعات را محدود می سازد دولت به اساس قانون اساسی و قانون رسانه های همگانی کشور نه تنها حق ندارد فراروی دسترسی به اطلاعات محدودیت وضع کند بل، باید سهولت هایی لازم را نیز در مورد فراهم نماید.

2- راه حل دوم این است که رسانه ها در مطابقت با قانون اساسی و قانون رسانه های همگانی کشور، به مطالبات حقه ی شان تا زمانیکه محدودیت از فراروی دسترسی به اطلاعات برداشته می شود، به طور مسالمت آمیز و دوام دار ادامه داده وازین مبارزه ی شان خسته نشوند.

3- اما مهم تر از همه؛ بیرون شدن ادارات دولتی و خصوصی از فرهنگ کتمان و ترویج دسترسی به اطلاعات به عنوان یک حق و یک ارزش است. حال زمان آن فرا رسیده که همه بپذیریم اینکه دسترسی به اطلاعات؛ در بالا بردن کیفیت رسانه ها و انکشاف کشور در مجموع، مؤثر می باشد. البته این کاری زمان گیر است. قبل از همه حکومت باید از داخل به این فرهنگ سازی در ادرات خود پرداخته، مسئولین و کارمندان را در بخش دادن اطلاعات با رسانه ها واقعاً همکار سازد. ثانیاً لازم است تا رسانه ها نیز با استفاده بهینه از اطلاعات به دست آمده، نقش شان را در این راستا به شکل مثبت ایفاء نمایند.

## منابع

https://ariananews.co

https://www.gmic.gov.af/dari/index.php

**ارتباط با ما:**

**لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه با ما شریک سازید.**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**ویب‌سایت:** www.csrskabul.af -- www.csrskabul.com

**شمارهٔ تماس دفتر:** 784089590 (0) 93 +